د رسول الله صلی الله علیه وسلم مختصر سيرت

MAHAD SUNNAH

نَسب يې:
هغه محمد بن عبد الله بن عبدالمطلب بن هاشم، او هاشم له قریشو څخه و، او قريش له عربانو څخه دي، او عربان د اسماعیل علیه السلام له نسل څخه دي.

پيدايښت يې:
په مکه کې د أصحاب فيل د پيښې په کال ربيع الاول مياشت کې زيږيدلي وو، او ټول عمر يې (۶۳) کاله و، چې (۴۰) کاله يې له نبوت څخه وړاندې کې تېر کړ و او (۲۳) کاله يې د نبوت څخه وروستــه تېر کړ چې هغه په کې نبي او رسـول و، اويتيم و ، پلار يې د هغه له زيږيدلو وړاندې وفات شـوي و، د نيکه عبد المطلب په پالنه کې رالوي شو، د نيکه له وفات وروسته يې پالنه ابوطالب کاکا په غاړه واخيسته.

بِعثت يې:
هغه ټولو (انسانانو اوپيريانو) ته رالېږل شوی و، پس هر هغه څوک چې د هغه بلنه ورته ورسيږي او قبول يې نکړي نو هغه په لوی کفر باندې کافر دی که هغه هر څوک وي.

بلنه يې:
هغه توحيد او خاېسته اخلاقو او اعمالو ته بلنه کړې، او له شرک او بد اخلاقو او اعمالو څخه يې منع کړې.

اسراء او معراج يې :
د شپې له مکې څخه بيت المقدس ته بوتللی شوی، بيا تر اووم اسمانه پورې پورته شوی، او الله تعالی ورسره خبرې وکړې، او پنځه لمونځونه يې پرې فرض کړي.

هجرت او مړينه يې:
له مکې څخه يې مديني ته هجرت وکړ، او هماغلته وفات شو، او د عایشه رضی الله عنها په کوټه کې دفن شو.

رَسَوَل يې:
الله تعالی پرې خپل دين تکميل کړ، او ښکاره رَسَوَل يې وکړل، او خپل امانت يې اداء کړ، او امت ته يې نصيحت وکړ،او دالله تعالی په لاره کې يې هر ډول حق جهاد وکړ، هيڅ څوک نشي کولای چې په دې دين کې له ځانه يو څه اضافه کړي.

مهم جنګونه يې:
اووه دي: بدر، احد، خندق، خيبر، د مکې فتحه، تبوک، او حنين.

اولادونه يې اووه دي:
قاسم، ابراهيم، عبدالله چې همدا (طيب او طاهر) دی، او زينب، رقيه، ام کلثوم، فاطمه دي، له فاطمې لور يې پرته ټول اولاد د هغه په ژوند کې وفات شوي دي، چې فاطمة رضي الله عنها د هغه له وفاته شپږ مياشتې وروسته هم وفات شوه.

بيبياني يې دولس دي:
خديجه، عايشه، سوده، حفصه، زينب هلاليه، ام سلمه هند، زينب بنت جحش، جويريه بنت الحارث، صفيه بنت حيی، ام حبيبه رمله، ريحانه بنت زيد، ميمونه بنت الحارث رضی الله عنهن دي.

رضاعي مېندي يې:
مور آمنه بنت وهب، ثويبه د ابو لهب وينځه، حليمه بنت ابی ذؤيب السعديه دي.

لومړی آيتونه چې پرې نازل شو:
د الله تعالی دا وينا په سورت العلق کې: ﴿ ٱقۡرَأۡ بِٱسۡمِ رَبِّكَ ٱلَّذِی خَلَقَ ۝١ خَلَقَ ٱلۡإِنسَٰنَ مِنۡ عَلَقٍ ۝٢ ٱقۡرَأۡ وَرَبُّكَ ٱلۡأَكۡرَمُ ۝٣ ٱلَّذِی عَلَّمَ بِٱلۡقَلَمِ ۝٤ عَلَّمَ ٱلۡإِنسَٰنَ مَا لَمۡ يَعۡلَمۡ ۝٥ ﴾

لومړي إيمان والا ورباندې:
له سړيو څخه: ابوبکر صديق، له ښځو څخه: خديجة بنت خويلد، له ماشومانو څخه: علي بن أبی طالب، له ازاد شويو غلامانو څخه: زيد بن حارثه، او له غلامانو څخه بلال بن أبی رباح رضی الله عنهم.

حج او عمرې يې:
څلور عمرې يې کړې ټولې يې په ذوالقعده کې کړې، او يو حج يې کړی دی د هجرت په لسم کال باندې، چې حجة الوداع ورته ويل کيږي.

اخلاق يې:
قرآن کريم و، الله تعالی فرمايي: ﴿ وَإِنَّكَ لَعَلَىٰ خُلُقٍ عَظِيمٍ ۝٤ ﴾ عائشه رضي الله عنها فرمايي: (د هغه اخلاق قران و).

د هغه د سيرت د زده کړې اهميت:
ابن القيم رحمه الله فرمايي: کله چې د يو بنده دد نيا او اخرت نيک بختي د رسول الله صلی الله عليه وسلم سنتو پورې تړلي وي، نو هر هغه څوک چې د خپل ځان خيرخواه وي، او د خپل ځان نجات او خوشحالي خوښوي بايد د رسول الله صلی الله عليه وسلم سنت او سيرت او د هغه کړنې چې له ناپوهۍ څخه پرې وځي زده کړي، او د هغه په اتباعو او ملګرو او ډله کې پرې داخل شي، ځينو خلکو پکې ډير څه زده کړي، او ځينو ډير کم، اوځينو بلکل هيح نه دي زده کړي،او فضل د الله تعالی په لاس کې ده چې چاته يې ورکوي او الله تعالی د ډير لوی فضل خاوند دی.